# سويډن ته د نوي راتلونکو لپاره معلومات












Språk: Pashto
Förvaltning: Sociala Resursförvaltningen
Enhet: Invandrarservice

Malmö stad

## ملي نوم ليکنه (FOLKBOKFÖRING)

که چیرته غواړی په سویډن کې ژوند وکړی نو باید په ملي نوم لیکنه (folkbokföringen) کې خپل نوم ثبت کړئ. د نوم لیکنې څخه وروسته تاسو ته یوه شخصي د هویت شمیره درکول کیږي. د سویډن د مالیاتو اداری (Skatteverket) ته ولاړ شی او له ځان سره پاسپورټ او نور داسې اسناد راوړی چې په سویډن کې د ژوند کولو د اجازې ښکارونه وکړي. همدارنګه د شتون په صورت کې د واده سند (äktenskapsbevis) یا د خپلو ماشومانو لپاره د زیږیدنې سند (födelsebevis) هم راوړی.

په سویډن کې ځینې حقونه او مکلفیتونه دې پورې تړلي دي چې آیا تاسو ملي نوم لیکنه کړې ده او که کړی مو وي چیرته مو کړې ده. د بیلګې په ډول، د دې لپاره چې د مالمو په SFI(د کډوالو لپاره د سویډني ژبې زده کړه) کې درس وواياست نو باید په مالمو کې مو ملي نوم لیکنه کړی وي.
په هر ښار کې چې ژوند کوی همالته خپل نوم لیکنه وکړی. که چیرته بل ځای ته کډه کوی نو د سویډن د مالیاتو اداري ته خبر وکړی.

مالیه

پته: Kattsundsgatan 7

ټیلفون: 0771 - 567 567

د کار وختونه: دوشنبه، سه شنبه او جمعه: لسو نه تر څلورو بجو پورې 10.00- 16.00
پنجشنه: د لسو بجو نه تر شپږو بجو پورې 10.00-18.00

د لازیاتو معلوماتو لپاره:
[www.skatteverket.se/privat/folkbokforing/flytta/flyttatillsverige](www.skatteverket.se/privat/folkbokforing/flytta/flyttatillsverige)

## هویت پېژندنه(LEGITIMATION)

د دې لپاره چې هویت مو ښکاره شي تاسو ته اړینه ده چې د سویډن د هویت پاڼه (مشروعیت) ترلاسه کړی. ډیر ځایونه لکه په بانک کې او همدارنګه کله چې ډاکتر ته مراجعه کوی دې پاڼې ته اړتیا پیدا کوی. ستاسو په هویت پاڼه کې د هویت شخصي شمیره لیکل شوی وي. ډیر ځلي د هویت پاڼې ښودنه ضروري وي.
همدارنګه د سویډن هیواد د موټر چلولو جواز او د هویت کارډ(ID-kort) هم کولی شي هویت مشخص کړي.

**د دې لپاره چې د سویډن د مالیاتو اداره تاسو ته د هویت کارډ درکړي لاندې شرایط مو باید پوره کړی وي:**

- د سویډن د مالیاتو ادارې ته له تګ څخه وړاندې مو فیس ورکړی وي
- د سویډن د مالیاتو ادارې داسې یو دفتر ته مراجعه وکړی چې د هویت کارډونه جوړوي
- د خپل ځان معرفي کولو لپاره اسناد درسره ولری، لکه د استوګنې د جواز کارډ
- د سویډن په ملي نوم لیکنه کې مو ځان ثبت کړی وي.

مالیه

پته: Kattsundsgatan 7

ټیلفون: 0771 - 567 567

د کار وختونه: دوشنبه، سه شنبه او جمعه: لسو نه تر څلورو بجو پورې 10.00- 16.00

پنجشنه: د لسو بجو نه تر شپږو بجو پورې 10.00-18.00

د لازیاتو معلوماتو لپاره: www.skatteverket.se/privat/idkort

# د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره (FÖRSÄKRINGSKASSAN)

که تاسی د عامی بیمې د ادارې د کومې مرستې مستحق یاستی، باید هلته لاړ شئ او ځان ثبت کړئ. مګر تر دې نه مخکې، باید تاسې خپل پرسون نمبر یا د هویت شمیره تر لاسه کړې وي. هرکله چه تاسې د نوم د ثبت لپاره ځئ، باید د خپل اقامت د فیصلې یو نقل له ځان سره واخلئ.

د هغو اقتصادي مرستو بیلګې چې د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره یې تاسو چمتو کولی شي:

د استوګنې کومکي معاش
د استوګنې کومکي معاش داسې یوه مرسته ده چې د ستونزو په وخت کې ستاسو د کور کرایه په غاړه اخلي. که چیرته تاسو خپل کور نلرئ او د خپلو ماشومانو سره اوسیږئ هم کولی شئ د دې مرستې لپاره غوښتنه وکړئ. په هغه صورت کې چې بل ځای ته کډه کوئ، د کورنۍ غړې مو زیاتیږي، یا هم ستاسو د عایداتو یا د کرایې کچه بدلیږي باید د دې مواردو په اړه د سویډن د ټولنیزه بیمې ادارې ته خبر ورکړئ. که چیرته د اړتیا څخه مو زیاتې پیسې تر لاسه کړې وي نو باید اضافي پیسې بیرته وسپارئ.

د ماشومانو کومکي معاش
که چیرته د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره کې مو نوم لیکلی وي نو تاسو کولی شئ د هغو ماشومانو لپاره چې د ۱۶ کلونو څخه لږ عمر او د سویډن د استوګنې جواز لري، د ماشومانو کومکي معاش تر لاسه کړئ. وروسته له هغه چې خپل ماشوم مو د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره کې ثبت کړ نو د ماشومانو کومکي معاش په اتوماتیک ډول تاسو ته استول کیږي.

د ژوندانه د معیشت کومکي معاش
که چیرته د ژوند ملګري څخه بیل شوي یاست او خپل ماشومانو سره اوسیږئ نو د ژوند هغه بل ملګری باید د ژوندانه د معیشت کومکي معاش ورکړي. په هغه صورت کې چې د ژوند بل ملګری نشي کولی دا لګښت ورکړي نو یاده مرسته د سویډن د ټولنیزه بیمې ادارې لخوا ورکول کیږي. او که چیرته هغه بل ملګری وفات شوی وي نو د ژوندانه د معیشت کومکي معاش د سویډن د تقاعد ادارې لخوا ورکول کیږي.

والدینو لپاره خاصّه مالی مرسته
هغه کورنۍ چه کوچنی ماشومان لری، کولای شی د فور ایلدرا پیننګ یا والدینو لپاره د خاصی مالی مرستی نه استفاده وکړی. که تاسو کار نکوئ او ددی لپاره کور کی پاتی کیږئ چه د خپل ماشوم مراقبت وکړئ، نو د فور ایلدرا پیننګ مستحق یاستی.

**د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره**

پته: Kattsundsgatan 7

ټیلفون: 0771 - 567 567

د کار وختونه: دوشنبه، سه شنبه او جمعه: لسو نه تر څلورو بجو پورې 10.00- 16.00
پنجشنه: د لسو بجو نه تر شپږو بجو پورې 10.00-18.00

د لازیاتو معلوماتو لپاره: [www.forsakringskassan.se](www.forsakringskassan.se)

## SFI- د کډوالو لپاره د سویډني ژبې زده کړه(SVENSKA FÖR INVANDRARE)

د کډوالو لپاره د سویډني ژبې زده کړه یو ابتدایي کورس ده چې ځوانو کډوالو ته د سویډني ژبې زده کړه ورکوي. د دې کورس موخه دا ده چې کډوال دومره سویډني ژبه زده کړې چې خپل ورځنی ژوند او کاري مسایل پرې حل کړي.
تاسو په هغه صورت کې د SFI ځخه ګټه اخیستلی شی چې په مالمو ښار کې مو خپل ملي نوم لیکنه (*folkbokförd*) کړی وي او په سویډني ژبې خبرې، لیکنه، او لوست نشی کولی. که چیرته ناروژي یا ډنمارکي ژبه مو زده وي نو بیا په SFI کې د برخه اخیستو اجازه نلری.
که غواړی په SFI کې درس وواياست نو د کډوالو د خدماتو څانګې(Invandrarservice) سره اړیکه ونیسی.
که چیرته د SFI په اړه زیاتو معلوماتو ته اړتیا لری نو دې ویبپاڼي ته مراجعه وکړی:
www.malmo.se/sfi

## تولنیزه لارښوونه(SAMHÄLLSORIENTERING)

هغه کسان چې سویډن ته نوی راځي کولی شي د ټولنیزه لارښووني په کورس کې برخه واخلي. په یاد کورس کې دغو کسانو ته د بیلابیلو مسایلو په اړه لکه، په سویډن کې د ژوند او کارکولو، د قوانینو او مقرراتو، طبي خدماتو په اړه او دا چې سویډن څنګه اهداف لري عمومي معلومات ورکول کیږي. که چیرته په دغو کورسونو کې د برخه اخیستو لیواله یاست نو مهرباني وکړی د کډوالو د خدماتو اداری سره اړیکه ونیسی.

د لازیاتو معلوماتو لپاره: www.malmo.se/Ny-i-Sverige

## د استخدام دفتر(ARBETSFÖRMEDLINGEN)

تاسو کولی شی داستخدام دفتر څخه د کاري موقو په اړه معلومات لاسته راوړی. دا دفتر تاسو سره د مرستې او خدماتو، مسلکي لارښوني، او د کار یا تریننګ موندلو په برخه کې مرسته کوي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره دا ویبپاڼه وګوری: www.arbetsformedlingen.se یا هم پدې شمیره اړیکه ونیسی 416 416 -0771
کډوال باید په Amiralsgatan 13 کې د کډوالو د استخدام دفتر(**Arbetsförmedlingen Integration**) سره اړیکه ونیسي.

د یو نوی کډوال په توګه تاسو باید هماغه دفتر ته مراجعه وکړی چې ستاسو د وړتیاو او کاري ساحې سره توافق لري. که چیرته مخکې مو کار نه وي کړی نو د خپل علاقې وړ دفتر ته مراجعه وکړی.

د استخدام دفتر د خدماتو څانګه، **Kungsgatan 6**
د کاري ساحې ډول: سوداګري\تجارت، هوټل\رستورانټ، د پیرودونکو خدمات

د استخدام دفتر د تخنیکي کارونو څانګه، **Storgatan 5**
د کاري ساحې ډول: تعمیرات، د انرژي تولید، د نقشې کاږلو کارونه، IT، د غیر منقول جایدادونو ساتنه، د ځارویو\کرهنې\ابڼ ساتنه، خوراکي توکي\خوراکي صنعت، پاک کاري، بیاجوړونه، د غاښونو د درملنې تخنیکي چارې، ترانسپورتیشن\ګودام، د ترمیم دوکان\تخنیکي کارونه

د استخدام دفتر د پاملرنې او اداري کارونو څانګه
**Södra Förstadsgatan 35**
د کاري ساحې ډول: د بیمې او بانک لرنې اداري، د وکیلانو دفترونه او اداري، ښوونکی، عامه مدیریت، پاملرنه

د استخدام دفتر

ویبپاڼه:www.arbetsformedlingen.se
ټیلفون: 416 416 - 0771

## د کور د اسبابو پور(HEMUTRUSTNINGSLÅN)

د کور د اسبابو پور هغه  پیسې دي چې د خپل کور د فرنیچر او نورو وسایلو د اخیستلو لپاره درکول کېږي. دا پور یوازې کډوالو یا د کډوالو خپلوانو ته ورکول کېږي. تاسو کولی شی یادې پیسې د CNS څخه لاسته راوړی، خو وړاندې باید د کډوالو د خدماتو څانګې سره مو اړیکه نیولی وي؛ مونږ به د پور په درکولو درسره مرسته کړو.

- د پور اندازه دې پورې اړه لري چې په یوه کورنی کې څو کسان اوسیږي او دا چې کور مو خپل دی که د کور څښتن سره په کرایه اوسیږی.
- همدارنګه د پور اندازه د کورنی د هغو غړو سره تړاو لري چې ودونه یې کړي، د هغو ملګرو شمیر سره چې یوځای اوسیږي او د پور د اخیستو اجازه لري، او هم د ۲۱ کلنی څخه ښکته هغو ماشومانو پورې تړاو لري چې لاهم په همدې کور کې اوسیږي.
- د واده\ملګرتیا تولې خواوې چې سره یو ځای ژوند کوي د پور په ورکولو کې مشترک مسولیت لري. هغه ښځه او میره چې طلاق کوي هم پدې کې شامل دي.
- د کور د اسبابو پور اخیستو لپاره باید د کډوالو د خدماتو څانګې د استقبالیې څخه د کتنې وخت ونیسی، په دې شمیره اړیکه نیولی شی: 34 19 94

د لازیاتو معلوماتو لپاره: www.csn.se/hemutrustningslan

# د وړکتون لپاره نوم ليکنه(ANMÄLAN TILL FÖRSKOLA)

ماشومان کولی شي د ۲ کلنۍ څخه تر هغه وخته پورې چې ښوونځي ته ځي په وړکتون کې تير کړي.
خپل ماشوم لږ تر لږه ٤ مياشتې وړاندې له دې نه چې غواړی وړکتون ته خپل تګ پيل کړي، ثبت کړی.
لاندې په يوه عامه وړکتون کې د نوم ليکنې لاره ښودل شوې ده:
د غوښتنې فورمه چې د تابعيت له دفتر(medborgarkontor) څخه يې ترلاسه کولی شی، ډکه کړی www.malmo.se
همدارنګه کولی شی پدې ويبپاڼه کې خپل نوم ثبت کړی www.malmo.se/forskola
کله چې ستاسو د ماشوم لپاره ځای پيدا شي نو په ليکلې بڼه خبر درکول کيږي. د دې لپاره چې دا ځای په خپل نوم کړی نو بايد په ټاکلې موده کې د تاييد خط ورواستوی. که چيرته دا ځوابي ليکنه ونه استوی نو ستاسو ماشوم خپل ځای له لاسه ورکوي او نوم ليکنه مو هم بې اعتباره کيږي. کله چې ځای مو خپل ماشوم لپاره خوندي کړه، نو خپل د عايداتو راپور د پورونو رياست (Debiteringsenheten) ته واستوی. که چيرته دا کار ونکړی نو بايد د وړکتون لپاره لوړ فيس ورکړی.
همدارنګه کولی شی په يو خصوصي وړکتون کې ځای ونيسی. غوښتنه مو بايد مستقيما اړوند وړکتون ته واستوی. د خصوصي وړکتونونو په اړه لازيات معلومات د دې ويبپاڼې څخه ترلاسه کولی شی: www.malmo.se/forskola

عامه وړکتونونه په اونۍ کې د دوشنبې څخه تر جمعې ورځې پورې د 06.15 نه تر 17.30 بجو پورې پرانيستي وي. د اړتيا په وخت کې وخت تر 18.30 بجو پورې هم غزيدلی شي.
دمنې لخوا نه کله چې ۳ بجې کورته راستنيږي ټول ماشومان دا حق لري چې په اونۍ کې ۱۵ ساعته په عامه وړکتونونو کې تير کړي.

## د جبري ښوونځي لپاره نوم لیکنه (INSKRIVNING I GRUNDSKOLAN)

د ۶ کلنۍ څخه تر ۱۶ کلنۍ پورې ماشومان چې نوی راځي، ښوونځي ته له داخلیدو څخه وړاندې باید د مورنۍ ژبې پیوستون ته (Modersmålenheten) چې په Mosaikskolan کې موقعیت لري، ولاړ شي. په پای کې یو له والدینو څخه یا یو بل کس چې د ماشوم سرپرستي په غاړه لري، د ماشوم سره راشي. جبري ښوونځی د ۷ کلنۍ څخه تر ۱۶ کلنۍ ماشومانو ته اړین دی.
ماشوم او مور او پلار یې یا هغه کس چې د ماشوم سرپرستي په غاړه لري
(vårdnadshavaren) باید خپل هویت معرفي کړي. دوی کولی شي د خپل هویت معرفي کولو لپاره د استوګنې جواز چې د سویډن د کډوالۍ بورډ لخوا ورکړ شوي، وښیي.
که چیرته تاسو زده کړه یا کار کوی نو کولی شی خپل ماشوم ته د ښونځي څخه وروسته په یو تفریحي مرکز کې ځای ونیسۍ. دا حق د ښوونځي څخه وړاندې وخت نه نیولې تر ۱۳ کلنۍ پورې اعتبار لري.
د ښوونځي څخه وروسته تفریحي مرکزونه په سهار کې د ښوونځي له پیلیدو څخه وړاندې او په غرمه کې د ښوونځي له پای ته رسیدو څخه وروسته پرانیستي وي. د ښوونځي څخه وروسته په یو تفریحي مرکز کې د نوم لیکنې لپاره د خپل ښوونځي څخه معلومات لاسته راوړۍ.

**Mosaikskolan**

پته: Rönnblomsgatan 6 A

تیلفون: 0729 - 814121

د تیلفون وخت: دوشنبې- جمعه 09:00-08:00

د نوم لیکنې وخت: سه شنبه د چهار شنبې پنج سنبه 09:00 - 13:00

# د ژبې معرفي کولو په پروګرام کې نوم لیکنه کول
# (INSKRIVNING I SPRÅKINTRODUKTION)

که چیرته د نوي راتلو په وخت کې مو عمر د ۱٦ او ۲۰ کلو په منځ کې وي، نو کولی شی د ژبې معرفي کولو په پروګرام کې برخه واخلی. په دې پروګرام کې سویډنې ژبه زده کوی او ورپسې کولی شی د ثانوي یا نورې زده کړې لپاره اقدام وکړی.

**د نوم لیکنې لپاره، مهرباني وکړی په دې نښه اړیکه ونیسی:**


Peggy Thornström<br>
Värnhemsskolan<br>
Kungsgatan 44<br>
ټیلفون 076-6076912<br>
د ټیلفون وخت: دوشنبې- جمعه 10:00-11:00<br>
peggy.thornstrom@malmo.se

## د سویډن د کډوالۍ بورډ(MIGRATIONSVERKET)

د سویډن د کډوالۍ بورډ د هغو خلکو غوښتنې بررسي کوي چې په سویډن کې د ژوند کولو اراده لري، سویډن ته د کتو لپاره راځي، د سویډن د تابعیت غوښتنه کوي یا د ځارنوالي مصونیت لپاره غوښتنه کوي.

د سویډن د کډوالۍ بورډ په لاندې مواردو کې له تاسو سره مرسته کولی شي:

- د استوګنې د جواز تمدید
- د استوګنې د جواز ثبتول
- د سویډن تابعیت
- د سفر اسناد
- خارجي پاسپورټ
- د کتونکو د جواز تمدید

د سویډن د کډوالو بورډ

پته: Agnesfridsvägen 111

ټیلفون: 235 235-0771

د ټیلفون وخت: دوشنبې- جمعه 08:00-16:00

د کار وخت: دوشنبې- جمعه 09:00-15:00

د لازیاتو معلوماتو لپاره: www.migrationsverket.se

# طبي خدمات(SJUKVÅRD)

هر هغه څوک چې په سویډن کې ژوند کوي او ځان یې په ملي نوم لیکنه کې ثبت کړی وي طبي خدماتو ته د لاسرسي موندلو حق لري. که چیرته کومه صحي ستونزه لری نو لومړی د پاملرنې یو مرکز ته مراجعه وکړی. تاسو کولی شی د پاملرنې یو مرکز په خپله خوښه غوره کړی.
که چیرته ناروغ یاست او درملنې ته اړتیا لری نو د طبي معلوماتو خدمتونو ته زنګ ووهی. په دې کار سره تاسو کولی شی خپله ستونزه د یو نرس سره شریکه کړی چې هغه ستاسو د ستونزې د حل لپاره مشوره درکوي او مناسب روغتیایي مرکز ته مو استوي.
د حاد او جدي ناروغیو یا هم د ټکرونو په صورت کې کولی شی د بیړنی درملنې ځانګې ته مراجعه وکړی. مهرباني وکړی د مراجعې څخه وړاندې ۱۱۷۷ شمیرې ته زنګ ووهی تر څو معلومه شي چې آیا واقعا د بیړنی درملنې ځانګې ته د تلو اړتیا شته که نه. که چیرته پیښه فوري وي او امبولانس ته اړتیا ولری نو ۱۱۲ ته زنګ ووهی.
په www.1177.se ویبپاڼه کې کولی شی د Skåne د طبي پاملرنې په اړه لازیات معلومات لاسته راوړی. په یاده ویبپاڼه کې کولی شی د خپلې خوښې د پاملرنې مرکز غوره، او همدارنګه د بیلابیلو ناروغیو او هغو حقونو په اړه معلومات پیدا کړی چې د طبي پاملرنې په برخه کې یې لری.

په هغه صورت کې چې ژباړونکي ته اړتیا ولری نو د طبي خدماتو ځانګه یې درته چمتو کولی شي. تاسو کولی شی ژباړونکي ته لاسرسي ولری او د دې کار لپاره په تاسو کوم لګښت نه راځي.

ټول ماشومان باید تر شپږ کلنی پورې د ماشوم د هوساینې مرکز سره اړیکه ولري. یاد مرکز د ماشوم روغتیا څاري او واکسینونه یې ورکوي. همدارنګه تاسو کولی شی د ماشوم د ودې په اړه معلومات او مشورې لاسته راوړی.
امیدواره ښځې کولی شي د زیږیدنې څخه وړاندې کلینیک کې د خپل ماشوم او د خپل ځان روغتیا وڅاري. همدارنګه په یاد کلینیک کې کولی شی د خپل جنسي روغتیا په اړه هم مشورې او مرستې ترلاسه کړی. د زیږیدنې څخه وړاندې کلینیکونه یو مشترک ټیلفون شمیره لري چې د "Barnmorska direkt" په نوم یادیږي. د اړیکې د معلوماتو لپاره لاندې وګورۍ.
کله چې ډاکتر ته مراجعه کوی په اکثرو پیښو کې د فیس په ورکولو اړ کیږي. هر څومره پیسې چې ورکوی د لوړ لګښت په کارډ *(högkostnadskort)* کې یې ټول کړی. ضروري نده چې په کال کې د 1100 SEKڅخه زیات مصرف وکړی. که چیرته د ډاکتر څخه مو وړاندې وخت نه وي اخیستی په ناڅاپي کتو سره باید دوه چنده فیس ورکړی. دا فیس بیا د لوړ لګښت په کارډ کې نه شمیرل کیږي. که چیرته پوه شوی چې په خپل وعده ډاکترته مراجعه نشی کولی نو د نوبت له رارسیدو څخه ۲٤ ساعته وړاندې خپله وعده لغو کړی.

## طبي خدمات

| | |
|---|---|
| د طبي معلوماتو خدمتونه | ټیلفون شمیره: 1177 |
| د بیړنی درملنې ځانګه | پته: Ruth Lindskogs gata 5 |
| حاد بیړنی وضعیت | ټیلفون شمیره: 112 |
| Barnmorska direkt | ټیلفون شمیره: 00 33 33-040 |
| د لازیاتو معلوماتو لپاره | www.1177.se |

## د غاښونو پاملرنه(TANDVÅRD)

تاسو کولی شی د خپلو غاښونو د پاملرنې لپاره یو خصوصي ډنتیسټ یا هم د غاښونو د روغتیا ملي خدمتونو ځانګي(*Folktandvården*) ته مراجعه وکړی. مشران باید د خپلو غاښونو د پاملرنې لپاره زیاتې پیسې ورکړي. که چیرته د سویډن د ټولنیزه بیمې په اداره (*Försäkringskassan*) کې مو نوم ثبت کړی وي نو د پیسو یوه برخه بیرته درکول کیږي.

د ماشومانو او هغه ځوانانو غاښونه چې د ۲۰ کلونو څخه یې عمر کم وي په وړیا ډول پاملرنه کیږي. د درې کلنۍ څخه وروسته د دوی غاښونه په منظم ډول معاینه کیږي. په هغه صورت کې چې ستاسو ماشوم کومه حاده ستونزه ولري نو د ډینټیسټ څخه ورته وخت اخستلی شی.
که تاسو پخپله د غاښونو فوري پاملرنې ته اړتیا لری نو خپل ډینټیسټ سره اړیکه ونیسی. او که چیرته د شپې لخوا یا د اونۍ د پای رخصتۍ په ترڅ کې مرستې ته ضرورت پیدا کوی نو ۱۱۷۷ شمیرې ته زنګ ووهی. په دې شمیره تاسو کولی شی د زنګ له لارې د ډینټیسټ څخه معلومات لاسته راوړی.
د لازیاتو معلوماتو لپاره دا ویبپاڼه وګوری:
www.1177.se/Skane/Tema/Tander/

## کور(BOSTAD)

په مالمو ښار کې د Boplats Syd په نوم د کور جوړوني یو ریاست شته دی. دلته تاسو کولی شی د اپارتمان اخیستو لپاره خپل نوم په لیکه کې ولیکی. دوی د لمړیتوب تاکلو څخه وروسته اپارتمانونه ویشي. څومره زیاد وخت چې په لیکه کې پاته شی د کور لاسته راوړو چانس مو زیاتیږي.

تاسو کولی شی خپل نوم د Boplats syds د ویبپاڼي له لارې یا هم مستقیما د دوی په دفتر کې ثبت کړی. په لیکه کې د پاته کیدو لپاره هر کال 300 SEK لګښت راځي.

همدارنګه تاسو کولی د کورونو د څښتنانو سره مستقیمه اړیکه ونیسۍ او ځانته کور پیدا کړی. دوی اکثرآ د کورونو په کرایه ورکولو او د انتظار لستونو لپاره ځانګړي اصول لري.

**Boplats syd**

پته: Lejonetpassagen, Stortorget 8

د کار وخت: دوشنبه- سه شنبه 09:00-12:00 او 13:00-15:00

جمعه 09:00-12:00

تیلفون: 040-34 24 50

د لازیاتو معلوماتو لپاره:www.boplatssyd.se

# د لازياتو معلوماتو لپاره(MER INFORMATION)

**www.informationsverige.se**

نوي کډوالو ته د ټولنې په اړه معلومات ورکوي. معلومات يې په عربي، دري، انګليسي، فارسي، صومالي او تګراني ژبو ژباړل شوي دي. همدارنګه تاسو کولی شی له دې ويبپاڼې څخه "د سويډن په اړه" کتاب چې په ګڼو ژبو ژباړل شوی ده ښکته کړی.

www.informationsverige.se/Svenska/Samhalle/Sidor/Boken-Om-Sverige-på-flera-språk.aspx

**www.sweden.se**

په انګليسي، فرانسوي، جرمني، هسپانوي، روسي، چينايي او عربي ژبو کې د سويډن په اړه رېښتني معلومات او ليکنې

**www.dinsakerhet.se**

پدې اړه چې څنګه د ټکرونو څخه مخنيوی وکړو او د يو بحران په بيلابيلو حالاتو کې څه وکړو معلومات وړاندې کوي. دا معلومات په ٦٦ ژبو کې د لاسرسی وړ دي!

**www.8sidor.se**

په آسانه سويډني ژبه خبرونه وړاندې کوي

**http://sverigesradio.se/International**

په بيلابيلو ژبو خبرونه وړاندې کوي

**www.malmo.se**

د مالمو ښار په اړه معلومات ورکوي

# د اصطلاحاتو ټولګه(ORDLISTA)

**ملي نوم لیکنه (Folkbokföring)**
د ملي نوم لیکنې مطلب دا ده چې د خپل استوګنې په ځای کې مو خپل نوم ثبت کړې ده. ډېر حقونه او مکلفیتونه دې پورې تړاو لري چې **آیا** نوم لیکنه مو کړې ده او **چیرته** مو کړې ده.

**د غاښونو د روغتیا ملي خدمتونه(Folktandvården)**
د غاښونو د روغتیا ملي خدمتونه د غاښونو هغه ډول پاملرنې ته ویل کیږي چې د عامه روغتیا پالنې لخوا وړاندې کیږي. د غاښونو د روغتیا ملي خدمتونو بدیل د غاښونو خصوصي پاملرنه ده چې د خصوصي شرکتونو لخوا وړاندې کیږي.

**د زیږیدنې سند (Födelsebevis)**
د زیږیدنې سند ښیي چې تاسو چیرته او په کومه نیټه زیږیدلي یاست او ستاسو مور او پلار څوک دي.

**د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره (Försäkringskassan)**
د سویډن د ټولنیزه بیمې اداره هغه ریاست ده چې د مصونیت سیستم مسولیت په غاړه لري. دا اداره په سویډن کې ګڼې اقتصادي مرستې وړاندې کوي لکه د هغو کورنیو سره چې ماشومان لري یا ناروغه کسان.

**د لوړ لګښت کارډ (Högkostnadskort)**
د لوړ لګښت کارډ سره تاسو ضرورت نلرئ چې د طبي پاملرنې لپاره په کال کې د 1100 SEK څخه زیاتې پیسې ورکړئ. هر ځل چې یو ډاکتر ته مراجعه کوئ او فیس ورکوئ نو خپل د لوړ لګښت کارډ ټاپه کړئ. کله چې لګښت مو 1100 SEK ته ورسید نو د کال تر پایه پورې طبي پاملرنه مو وړیا کیږي.

**د تقاعد ریاست (Pensionsmyndigheten)**
د تقاعد ریاست  هغه عامه ریاست ده چې د عامه تقاعد چارې پر مخ بیایي. د تقاعد پیسې هغه چاته ورکول کیږي چې د سن لوړوالي له امله یې خپل کار پریښی وي.

**د مالیاتو دفتر (Skatteverket)**
د مالیاتو دفتر داسې یوه اداره چې د مالیاتوچارې پرمخ بیایي چې په سویډن کې یې ټول وګړي ورکوي. دوی برسیره پردې د ملي نوم لیکنې او د سویډن د هویت کارډونو مسولیت هم په غاړه لري.

**د واده سند (Äktenskapsbevis)**
دا سند ښیي چې تاسو واده کړې ده

**سرپرست (Vårdnadshavare)**
سرپرست هغه کس یا کسانو ته ویل کیږي چې د ماشوم حقوقي مسولیت په غاړه لري. په اکثرو وختونو کې مور او پلار د ماشوم سرپرستي کوي، خو په هغه صورت کې چې مور او پلار د خپل ماشوم پاملرنه نشي کولی، بل کس هم د ماشوم سرپرست کیدای شي.